# څه شی دی؟ Ohio's Third Grade Reading Guarantee

د اوهایو د دریم ټولګي د لوستلو تضمین (Ohio's Third Grade Reading Guarantee) یو قانون دی چې د اوهایو ښوونځي یې باید له وړکتون څخه پیروي وکړي (د اوهایو (Ohio) تعدیل شوی قانون 3313.608 وګورئ).

دغه قانون دا غوښتنه کوي چې ښوونځي باید:

1) د هر ښوونیز کال په پیل کې له وړکتون څخه تر دریم ټولګي پورې د ټولو ماشومانو **د لوستلو د مهارتونو ازموینه وکړي.**
2) **کورنیو ته په لیکلي توګه خبر ورکړي که چیرې ماشوم مو** د ازموینې د پایلو پر اساس **هغه ډول لوستل نه کوي څنګه چې د دوی د ټولګي کچې سره سم تر ې د لوستلو تمه کیږي.** دغه قانون د هغو جزئیاتو په اړه مشخص دی چې ښوونځي یې باید کورنیو ته د ازموینې د پایلو او دغه رازد ښوونځي د هغه پلان په اړه ورکړي چې له مخې یې ماشوم ته په ښوونځي کې د لوستلو ښوونه کیږي.
3) **ماشوم ته ځانګړې لارښوونې ورکړي، کومې چې د مداخلې خدمتونه بلل کیږي.** که ماشوم مو په ازموینه کې د ټولګي له معیار څخه ټیټې نمرې ترلاسه کړې وي، نو دغه خدمتونه باید د ماشوم د زده کړې ځانګړو اړتیاوو ته ځانګړي شوي وي. د مداخلې خدمتونه باید د لوستلو د علم **پر اساس وي.**
4) **د** لوستلو د ودې او څارنې پلان **تر هغې نیټې وروسته په 60 ورځو کې دننه** جوړ کړي په کومې چې ستاسو ماشوم د کال په پیل کې د لوستلو آزموینه ترسره کړې. د ماشوم د ټولګي ښوونکی او مور یا پلار/سرپرست باید د دغه پلان په جوړولو کې شامل وي.

## موږ په اوهایو (Ohio) کې دغه قانون ولې لرو؟

هغه ماشومان چې د ټولګي کچې سره سم لوستل نه کوي، په ښوونځي کې له ستونزو سره مخ کیږي، که اضافي مرسته ترلاسه نه کړي. دوی څلور چنده ډېر احتمال لري چې د عالي لیسې څخه د زده کړو بشپړولو پرته ووځي.

## خپل ماشوم سره د لوستلو په برخه کې بریالی کېدو کې د مرستې لپاره څه کولی شم؟

والدین هره ورځ له خپل ماشوم سره په لوستلو کې د مرستې لپاره ډېر څه کولی شي!

- **د خپل ماشوم د لوستلو ډېر ځله ستاینه وکړئ.** دا ډېره په زړه پورې ده کله چې ماشوم په لوستلو کې پرمختګ کوي. دا خبره شریکه کړئ چې څومره یې پر پرمختګ ویاړئ.
- **خپل ماشوم ته وخت ورکړئ چې د لوستلو او لیکلو هغه مهارتونه تمرین کړي چې له مخکې یې په ښوونځي کې** زده کړي دي. د خپل ماشوم له ښوونکو څخه د هغه دقیقو مهارتونو په اړه پوښتنه وکړئ په کومو چې کار کولو ته اړتیا ده.
- **خپل ماشوم ته غوږ ونیسئ کله چې هغه لوستل کوي.** ځینې کتابونه، چې په اسانه سره د لوستل کېدو وړ (decodables) بلل کیږي، د لوستلو د ځانګړو مهارتونو د تمرین لپاره خورا ښه دي. له ښوونکی یا کتابتون ساتونکي څخه هغه نمونه بیز کتابونه وغواړئ کوم چې هغه څه سره سمون لري چې ستاسو ماشوم یې تمرین کولو ته اړتیا لري.
- **که ماشوم تېروتنه وکړه، نو ترې وغواړئ چې کلمه ورو ورو بیا ولولي.** له خپل ماشوم وغواړئ چې جمله بیا ولولي تر څو ډاډمنه شي چې پر معنی یې پوهیږي.
- **دا پروا نه کوي چې له کتابونو څخه وقفه وکړئ، که مو ماشوم ورته اړتیا لري. د تورو فلیش کارتونه، د زده کړې نورې لوبې او مواد وازموئ یا یې پر ځای پر لیکلو کار وکړئ.** زده کړه کېدی شي په بېلابېلو لارو ترسره شي.
- **کتابونه او د لیکلو مواد په ټولو هغو ځایونو کې وساتئ چې ماشوم مو پکې هره ورځ وخت تېروي.**
- **د خپل ماشوم له ښوونکي سره هره میاشت یا ډېر ځله په دې اړه خبرې وکړئ چې لوستل په کور کې څنګه روان دي** او په دې اړه جزئیات وغواړئ چې په ښوونځي کې د لوستلو وخت څنګه تېرېږي.

Department of Education & Workforce

Ohio Statewide Family Engagement Center at The Ohio State University

## هغه پوښتنې چې باید له ښوونکي څخه وپوښتل شي

- **ښوونځي په دې ښوونیز کال کې زما د ماشوم د لوستلو او لیکلو په اړه کوم معلومات راټول کړي دي؟** آیا زه د پایلو یوه کاپي له ځان سره درلودی شم؟ (والدینو ته یادښت: که پایلې ګډوډوونکي وي، نو لا زیات معلومات وغواړئ ترڅو په پوهېدو کې مرسته درسره وکړي.)
- **کوم** [نصاب او مواد](#) **زما د ماشوم** د لوستلو او لیکلو لپاره کارول کېږي؟
- **په ښوونځي کې د لوستلو او لیکلو وخت په بهیر کې څه ترسره کېږي؟** آیا زما ماشوم کولی شي چې درسونو ته توجه ولري او برخه پکې واخلي؟ آیا داسې ښکاري چې هغه پرمختګ کوي؟ که یې نه کوي، نو ښوونځی نور کوم کارونه ترسره کولی شي ترڅو مې له ماشوم سره په زده کړه کې په غوره طریقه مرسته وکړي؟
- **که زما ماشوم په راتلونکي میاشت کې پرمختګ ونه کړي**، د ښوونځي په سیستم کې زما د ماشوم لپاره د لا زیاتې مرستې ترلاسه کولو لپاره زما نور اختیارونه کوم کوم دي؟

## آیا ماشوم مې څلورم ټولګي ته تللی شي، که د لوستلو په ازموینه کې بریالی نه شي؟

هو. ښوونځي ممکن سپارښتنه وکړي چې ځینې زده کوونکي د دریم ټولګي یوه برخه یا د دریم ټولګي ټول کال له دې امله تکرار کړي چې د لوستلو لپاره د دریم ټولګي د کچې د نمرو معیار نه پوره کوي. زده کوونکي لا هم په دې قانون کې شته د لاندې معافیتونو پر اساس څلورم ټولګي ته تللی شي.

## د دریم ټولګي له تکرار څخه معافیت

1) **والدین غوښتنه کولی شي چې د دوی ماشوم دې څلورم ټولګي ته لاړ شي**، خو وروسته لدې چې د خپل ماشوم له ښوونکي او د ښوونځي له مدیر (پرنسپل) سره د ماشوم د لوستلو د نمرو او د لوستلو لپاره د مرستې ترلاسه کولو اختیارونو په اړه خبرې وکړي. والدینو ته د دغې پرېکړې په اړه حتمي واک ورکول کېږي. [د دغه معافیت په اړه د اوهایو ایالت په کچه د کورنۍ ښکېلتیا مرکز (Ohio Statewide Family Engagement Center) په وېبسایټ کې لا زیات معلومات ترلاسه کړئ](#).
2) **هغه زده کوونکي چې د انګلیسي ژبې خدمتونه ترلاسه کوي** او تر دریو کلونو کم وخت لپاره د انګلیسي ژبې ملاتړ لري، کولی شي څلورم ټولګي ته لاړ شي.
3) **هغه زده کوونکي چې د ځانګړو زده کړو خدمتونه ترلاسه کوي** او د زده کړو په انفرادي پلان (IEP) کې یې لیکل شوي وي چې دوی معافیت لري.
4) **هغه زده کوونکي چې د ځانګړو زده کړو خدمتونه ترلاسه کوي** او له مخکې یې د دوو ښوونیزو کلونو لپاره د لوستلو په برخه کې جدي اصلاح ترلاسه کړې وي، خو لا هم د ټولګي کچې سره سم برابر لوستل نه شي کولی.
5) **هغه زده کوونکي چې د دوو ښوونیزو کلونو لپاره یې د لوستلو په برخه کې جدي اصلاح ترلاسه کړې وي او چې مخکې له مخکې یې له** وړکتون څخه تر دریم ټولګي پورې **د یو ټولګي درجه تکرار کړې وي.**
6) **هغه زده کوونکي چې د** ایالت لخوا تایید شوې **بدیلې آزموینه کې د بریالي کېدو نمرې ترلاسه کړې.**

## د زده کوونکو لپاره تر دریم ټولګي وروسته کوم ملاتړونه چمتو کېږي؟

سره لدې چې دې ته د دریم ټولګي د لوستلو تضمین وایي، خو ښوونځي باید له پیل څخه تر 12م ټولګي پورې د هغو زده کوونکو ملاتړ ته دوام ورکړي چې د ټولګي کچې سره سم لوستل نه کوي. د خپل ماشوم له ښوونځي څخه د هغه ملاتړ په اړه پوښتنه وکړئ چې ستاسو ماشوم ته یې تر هغه وخته پورې چمتو کوي چې د ټولګي کچې سره سم لوستل وکړي.

## پوښتنې لرئ؟

[ThirdGradeGuarantee@education.ohio.gov](mailto:ThirdGradeGuarantee@education.ohio.gov) ته یو برېښنالیک واستوئ.